# دا ځاروي د وحشي ځناورو په څېر طبيعت لري، نو هغه څه چې تاسو يې د ماتولو توان نه لرئ، دا کار ورسره وکړئ

له رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: موږ د ذوالحليفه په سيمه کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو چې خلک وږي شول، نو دوى اوښان او پسونه په غنېمت کې ونيول، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خلکو تر شا وو، نو دوى په بيړه حلال کړل او ديګونه يې باندې کېښودل، رسول الله صلى الله عليه وسلم امر وکړ چې دېګونه واړول شي، بيا يې له سره وېش وکړ، نو لس پسونه يې د يو اوښ سره مساوي کړل، يو اوښ له دوى څخه وتښتېد، نو دوى وريسې شول تر دې چې ستړي شول، دا په داسې حال کې چې دوى سره لږ شمېر آسونه وو، نو له دوى څخه يو سړي غشى وار کړ، تر دې چې الله تعالى پرې را ايسار کړ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دا ځاروي د وحشي ځناورو په څېر طبيعت لري، نو هغه څه چې تاسو يې د ماتولو توان نه لرئ، دا کار ورسره وکړئ»، بيا رافع وويل: "سبا ويره شته چې د دښمن سره مخ شو، حال دا چې چاقوګان نه لرو ، نو آيا کولى شو په دورمو حلاله وکړو؟" هغه وفرمايل: "هر هغه څه وخورئ چې د حلالې په پايله کې يې وينه بهېدلي وي او د الله تعالى نوم پرې ياد شوى وي، پرته له غاښونو او نوکانو څخه چې زه به تاسو ته د هغې شيانو په اړه خبر درکړم: ځکه غاښونه هډوکى دى، او نوکان د حبشيانو د حلالې توکي دي".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رافع بن خديج رضي الله عنه وايي چې هغوى له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په ذو الحليفه کې وو، نو خلک وږي شول، په داسې حال کې چې له مشرکانو څخه يې اوښان او پسونه په غنېمت نيولي وو، نو د غنېمت له وېش مخکې يې بيړه وکړه، ځاروي يې حلال کړل او پرته له دې چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اجازه وغواړي ديګونه يې باندې کېښودل، دا په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ډلې په وروستۍ برخه کې راروان و، نو کله چې هغه صلى الله عليه وسلم خبر شو نو د ديګونو د چپه کولو امر يې وکړ، تر څو يې خوړوا توى شي، بيا يې د هغوى تر منځ غنيمتونه ووېشل، نو د يو اوښ په مقابل کې يې لس پسونه وټاکل، پدې حال کې يو اوښ وتښتېد، نو دوى يې له رانيولو عاجز شول، ځکه لږ شمېر آسونه يې درلودل، نو يو سړي په نيزه وويشت، تر دې چې الله ورته اوښ مهار کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا کورني حيوانات لکه د وحشي ژوو په څېر طبيعت لري، نو هغه چې پر تاسو زورور شول او تاسو يې له رانيولو عاجز شوئ نو داسې کار ورسره وکړئ. رافع بن خديج وويل: سبا ته له دښمن سره د مخ کېدو شونتيا شته، نو موږ ويره لرو که په تورو حلالې وکړو پڅې به شي، حال دا چې حلالې ته سخته اړتيا ده، او موږ چړې او چاقوګان نه لرو، نو آيا کولى شو د دورمې په تېرو لرګيو حلاله وکړو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر هغه شى چې په زياته کچه وينه وبهوي، په ځاروي د الله نوم ياد شي او پرته له غاښ او نوک په بل شي حلال شي چې په اړه به يې معلومات درکړم (نو هغه وخورئ) ځکه غاښ هډوکى دى، او نوک چې دى نو د حبشې کافران يې کاروي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee